واحد فقیري
۲۰۱۸/۰۹/۰۸

# د طالبانو سره د ټرمپ د مصالحې ملاتړ باید وسي

ډګلاس لوټ، د افغانستان لپاره د اوباما ټاپ مشاور، او ډینس مک ډانهو، د اوباما د دفتر رئیس، د سپټمبر پر ۷ په نیویارک ټایمز کې لیکي د طالبانو سره د امریکا مخامخ خبري د افغانستان د کشالي د حلولو لپاره بهترینه لاره ده. که څه هم پخوا امریکائي چارواکو د همدي هدف د تر لاسه کولو په منظور کوښښونه کړي ول، خو دا کرت ښایي وخت تر پخوا مناسب وي.

هغوی لیکي د جولای په میاشت کې د متحده ایالاتو د خارجه وزارت مامورینو او طالبانو مستقیمي خبري وکړې. پدې هفته کې زلمی خلیلزاد د سولي لپاره خاص استازی وټاکل سو. موږ دواړه د دې انکشافاتو هر کلی کوو. کله چي موږ د اوباما په حکومت کې ټاپ مقاموته اشغال کړي ول، موږ ډیره هڅه کړه چي د امریکا، افغان حکومت، او طالبانو تر مینځ د مخامخ مذاکراتو لپاره زمینه برابره کړو، خو کامیابه نه سولو. زموږ باور دا دئ چي د افغانستان د ۱۷ کلن جنګ د ختمولو لپاره دیپلوماتیک حل یوازنی لاره ده. موږ عقیده لرو چي پدې برخه کې د ټرمپ د اداري اوسني کوښښونه یو مهم انکشاف دئ چي متاسفانه موږ پکښي کامیابه نه سولو.

ټول سیاسي او نظامي تحلیلګران پدې قانع دي چي د افغانستان لانجه نظامي حل نه لري. د جنګ د ختمولو لپاره د ټرمپ د اداري رواني هڅي به طالبانو ته دا ور وفهموي چي متحده ایالات باور لري چي د افغانستان د ثبات لپاره مذاکرات ضروري او حتمي دي .

خو د افغان چارواکو په شمول ځیني نقادان باور لري چي د طالبانو سره د امریکا مخامخ خبري به طالبانو ته مشروعیت ورکړي، او په عین زمان کي به د افغان د منتخب حکومت بیخ وباسي. خو بر عکس، موږ ګومان کوو چي د طالبانو سره مستقیمي خبري به دا معلومه کړي چي ایا طالبان په رښتیا غواړي چي د افغانستان په آینده مدني سیاست کي نقش ولري او کنه، او که صرف غواړي خپل بغاوت ته ادامه ورکړي، او د پاکستان له استخباراتو سره خپل روابط وساتي. د مذاکراتو له طریقه د طالبانو د اصلي نیت رابرسېره کول به ښایي د بین الافغاني ډیالوګ لپاره هم زمینه برابره کړي .

ځیني نقادان دا هم وایي چي ایا طالبان به وکړای سي چي د خپل متنوع او پراخ غورځنګ ټولي خواوو یوې موافقي ته پابند وساتي؟ ایا د قطر دفتر د ټولو طالبانو استازیتوب کوي؟ زموږ تجربه دا راته وایي چي د قطر دفتر د اکثرو طالب مشرانو نماینده ګي کوي، او کولای سي چي موافقي عملي کاندي.

په همدې لړ کي، دا باید له یامه و نه باسو چي په ۲۰۱۴ کي د یوه امریکایي اسیر عسکر په مقابل کي، موږ پنځه طالب بندیان خوشي کړل. د موافقي سره سم، هغوی بیا د جنګ میدانونو ته ستانه نه سول، بلکي په قطر کي پاته سول. البته په مجموع کي دا پر دي باندي دلالت نه کوي چي پر طالبانو باندي باید مدام باور وسي، بلکي دا خبره دا ښیي چي د قطر دفتر مؤثر دئ، او موافقي عملي کولای سي.

ځیني نور نقادان وایي چي طالبان به تر هغه وخته پوري د امریکا سره جدي خبرو ته غاړه کښي نه ږدي، تر څو هغوی په نظامي ډګر کي مات سوي نه وي. حقیقت دا دئ چي طالبان اصلاً نظامي شکست ته نژدي سوي هم نه دي. بر عکس هغوی پر کابل او نورو مهمو ښارونو باندي حملي کوي. خو طالبان داخلي چیلنجونه سره مخامخ دي. هغوی باید خپلو خلکو ته دا وښیي چي هغوی پرته له جنګه افغانستان ته څه نور شیان هم ورکولای سي. دا خبره ځکه حقیقت ته نژدي ده چي د طالبانو مشران په پاکستان کي آرام ناست دي، او د جنګ له ستونزو څخه په امان دي، او د پاکستان د استخباراتو غوښتنو ته باید جواب ووایي .
بله موضوع دا ده چي په افغانستان کي د داعش حضور هم د کابل حکومت او هم طالبان تهدیدوي، او دواړه ئې مشترک دوښمن تلقي کوي. ځیني ناراضه طالبان د داعش سره یو ځای سوي دي. د طالبانو مشران ښه پوهیږي چي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

په افغانستان کي د بې ثباتی توسعه به لا خطرناکه واقع سي، او همدې مسئلې هغوی دېته هڅولي دي چي مذاکراتو ته مخه کړي .

د طالبانو سره د امریکا مخامخ خبري به د سولي پوټانشل وازمويي، او په عين زمان کي به سولي ته د اشرف غني د تعهد ملاتړ هم وکړي. د طالبانو سره د متحده ایالاتو مستقیم مذاکرات به د افغان اقليتونه ته دا ډاډ ورکړي چي د هغوی ګټي به خوندي وي، ځکه طالبان اکثره پښتانه دي .

البته د امریکایانو او طالبانو تر مینځ خبري د ټولو ستونزو مشکل کشا نه دي. دا مذاکرات به مازي دونه وکړي چي د بین الافغاني خبرو لپاره لاره هواره کړي. حتی په یوازي سر به بين الافغاني مذاکرات هم ثبات تثبيت نه کړي، بلکې په آخر به د پاکستان، ایران، روسيې، چين، هند، عربي ملکونو همکاری ته هم ضرورت وي. لنډه دا چي دا سیاسي پروسه به نه ساده وي او نه به هم چټکه. خو د امریکا او طالبانو تر مینځ مستقیمي خبري د آغاز نقطه ده .

د ۲۰۰۱ راهیسي، امریکا په افغانستان کي د نړیوالو کوښښونو مخکښه ده. موږ القاعده تباه کړي ده، او القاعده وه چي پر امریکائي تروریستي حمله وکړه. پدې ۱۷ کالو کي موږ هڅه کړې ده چي افغانستان یو ځل بیا د تروریستانو ځاله نه سي. الان موږ دې نتیجې ته رسېدلي یو چي د سیاسي روغي جوړي لپاره مناسب وخت رارسېدلی دئ، او د افغان د کشالي د ختمېدو موقع رانژدې سوې ده.

واقعيت دا دئ چي اوس هم لکه ۲۰۰۱ د متحده ایالاتو مشرتابه ته اړتیا سته. موږ باید د طالبانو سره مخامخ خبري وکړو، څو په افغانستان کي یو داسي سیاسي مصالحي ته لاره خلاصه وکړو چي زموږ منافع په کښي خوندي سي .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ